LJUSNARSBERGS KOMMUN

Pashto

**د غیرحاضرۍ ثبتولو او د زده کوونکو د حاضرۍ د ښه کولو په موخه د تدابیرو په اړه معلومات**

**د غیرحاضرۍ په وخت:**

**006 709-0580 ته زنګ ووهئ. یو غږ ستاسو څخه غوښتنه کوي چې د خپل ماشوم د هویت شمېره د ټیلیفون د دکمو په ذریعه ثبت کړئ.**

وروسته د اس ام اس له لارې یو تایید درلیږل کیږي. پام وکړئ چې د ماشوم د غیرحاضرۍ په حالت کې هره ورځ په جلا ډول خبرتیا ورکړئ. د غرحاضرۍ د خبرتیا په اړه معلومات د کمون په وېبپاڼه (www.ljusnarsberg.se) کې هم وړاندې شوي دي.

1. د طاقو درسونو څخه د غیرحاضرۍ په وخت د مثال په توګه د غاښونو ډاکټر ته د مراجعې یا د یوې غونډې په وخت خبرتیا هم د پورته ذکر شوې طریقه باندې ترسره کیږي.
2. هغه ماشومان چې هویت یې خوندي وي یا د هویت بشپړه شمېره نه لري، د لاندې برېښنالیک له لارې د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکوي: gunilla.andersson3@ljusnarsberg.se
3. که چېرې د Dexter پروګرام کار نه کوي نو د غیرحاضرۍ خبرتیا د لاندې برېښنالیک په پته استول کیږي. gunilla.andersson3@ljusnarsberg.se

د Kyrkbacksskolan ښوونځی د یو څه مودې راهیسې په ښوونځي کې د زده کوونکو د حاضرۍ ښه کولو په موخه ځینې ګامونه پورته کړې دي چې د دې جملې څخه د زده کوونکو د حاضرۍ د بهبود یو هیئت تشکیل شوی دی چې د غیرحاضرۍ د مخنیوي، د حاضرۍ د بهبود او د اصلاح په موخه هلې ځلې کوي. د دې هلو ځلو موخه دا ده چې په ښوونځي کې د زده کوونکو لپاره یو خوندي چاپیریال مهیا شي، د سرپرستانو سره یوه موثره همکاری رامنځته شي او د زده کوونکو لپاره د درسي معیارونو ته د رسېدو زمینه مساعده شي.

سرپرست مسئولیت پر غاړه لري چې د غیرحاضرۍ په وخت د خپل ماشوم غیرحاضري ثبت کړي. د ښوونځي اداره غواړي چې روښانه کړي چې سرپرست د غیرحاضرۍ خبرتیا باید د اس ام اس، برېښنالیک یا ټیلیفون له لارې ورنکړي بلکه دا کار د پورته ذکر شوې طریقې له لارې ترسره کړي.

د ماشوم لپاره د اوږدې مودې رخصتي اخیستلو لپاره باید د ماشوم سرپرست د رخصتۍ یوه عریضه ډکه کړي چې دا فورمې د کمون وېبپاڼې (www.ljusnarsberg.se) کې د utbildning och baromsorg د عنوان لاندې موجودې دي. د رخصتۍ عریضه د ټولګي نګران ښوونکي ته سپارل کیږي. د ټولګي نګران ښوونکي کولای شي چې د 1ورځې لپاره رخصتي ورکړي خو له دې څخه اوږده رخصتي د ښوونځي د مدیر لخوا منظوریږي. **دې ته له پامه پرته چې د رخصتۍ عریضه منظوره شي او یا رد شي، د زده کوونکو د حاضرۍ د بهبود هیئت ته یوه کاپي سپارل کیږي.**

**ثبت شوې او بې خبره غیرحاضري**

د Kyrkbacksskolan ښوونځی د سرتاسري ازموینو په دوران کې د مربوطه ټولګیو زده کوونکو ته هیڅ ډول رخصتي نه ورکوي.

هم ثبت شوې او هم بې خبره غیرحاضري په معینو وختونو کې احتمال لري د ستونزمنو غیرحاضریو د جملې څخه وشمېرل شي.

د زده کوونکو د حاضرۍ د بهبود هیئت او د زده کوونکو د صحی خدماتو ټیم د هر ډول غیرحاضرۍ په وخت سر له وخته په جریان کې اچول کیږي.

د رخصتۍ عریضه رد کېدو په صورت کې بیا هم غیرحاضري درلودل همیشه د ټولنیزو خدمتونو ادارې ته خبرتیا باندې تمامیږي.

**د حاضرۍ/غیرحاضرۍ په اړه پوښتنې مطرح کولو لپاره د زده کوونکو د حاضرۍ د بهبود هیئت سره اړیکه ټینګه کړئ:**

ګونیلا آندرشون
gunilla.andersson3@ljusnarsberg.se
072-856 09 29